# د COVID-19 لپاره د خپلې درملنې او د مخنیوي انتخابونو په اړه پوهه شئ

اوسمهال د COVID-19 لپاره د درملنې ډیر انتخابونه شتون لري. پداسې حال کې چې ډیری خلک درملنې ته اړتیا نلري، درملنې د لوړ خطر سره مخ خلکو په روغتون کې بستر کیدو او مړینې مخنیوی کولی شي. څېل د روغتیا پاملرنې وړاندې کونکې سره وغږیږئ که چیرې تاسې د جدي ناروغۍ خطر سره مخ یې او د مخنیوي تراپۍ غواړئ یا که تاسې د لوړ خطر سره مخ یې او د COVID-19 ټیسټ مو مثبت وئ.

درملنې د واکسین ځای نه نیسي. واکسین د COVID-19 څخه ستاسې د خوندیتوب ترټولو خوندي او اغیزناکه طریقه ده.درملنې باید خورا ژر پیل شي نو ټیسټ کول مه ځنډوئ. دلته د COVID-19 لپاره د موجوده 6 درملنو په اړه معلومات دي.

| | ایوشیلډ (Evusheld) | پکسلوید (Paxlovid) | مولنوپیراویر (Molnupiravir) | بیبتیلویماب (Bebtelovimab) | ریمډیسیویر (Remdesivir) |
|---|---|---|---|---|---|
| څوک په شرایط برابر دی؟ | • د 12+ کلونو عمر لرونکی<br>• د COVID-19 عفونیت نلرونکي یا پدې وروستیو کې ورسره مخ شوي خلک؛ او هغوی چې:<br>• oمعافیت یې کمزوری دی،<br>• oداسې درملنه یې کړې وي چې معافیت یې کمزوری شوی وي، یا<br>• د شدید حساسیت یا الرژیک غبرګون له امله واکسین نشي کولی. | • د 12+ کلونو عمر لرونکي<br>• د COVID-19 لرونکي هغه خلک چې د شدید ناروغۍ لوړ خطر سره مخ دي. | • د 18+ کلونو عمر لرونکي<br>• د COVID-19 لرونکي هغه خلک چې د شدید ناروغۍ لوړ خطر سره مخ دي | • د 12+ کلونو عمر لرونکي<br>• د COVID-19 لرونکي هغه خلک چې د شدید ناروغۍ لوړ خطر سره مخ دي | • لویان او د 3.5 کیلوګرام (8 پاونډ) څخه ډیر وزن لرونکي ماشومان<br>• د COVID-19 لرونکي هغه خلک چې په روغتون کې بستر شوي نه وي مګر د شدید ناروغۍ لوړ خطر سره مخ دي |
| کله باید دا پیل شي؟ | د عفونیت نه مخکې د COVID-19 په مخنیوي کې د مرستې لپاره | د علایمو د پیل څخه په 5 ورځو کې | د علایمو د پیل څخه په 5 ورځو کې | د علایمو د پیل څخه په 7 ورځو کې | د علایمو د پیل څخه په 7 ورځو کې |
| دا څنګه ورکول کیږي؟ | تزریق | ګولۍ د 5 ورځو لپاره د خولې له لارې خوړل کیږي | ګولۍ د 5 ورځو لپاره د خولې له لارې خوړل کیږي | یو ځلي د رګ له لارې تزریق (IV) | په ورځ کې یو ځل د رګ له لارې تزریق (IV) د 3 ورځو لپاره |
| دا چیرې ورکول کیدی شي؟ | د روغتیا پاملرنې تاسیسات/د تزریق مرکز | کور | کور | د روغتیا پاملرنې تاسیسات/د تزریق مرکز | د روغتیا پاملرنې تاسیسات/د تزریق مرکز |

**د نورو معلوماتو لپاره، دلته ورشئ: *https://www.fda.gov/consumers/consumer-updates/know-your-treatment-options-covid-19***

ALAMEDA COUNTY HEALTH CARE SERVICES AGENCY
PUBLIC HEALTH DEPARTMENT

*Adapted from materials provided by the County of Santa Cruz

UPDATED APRIL 2022